# ارګ پاڼه

دیارلسمه ګڼه

د افغانستان اسلامي امارت
د اطلاعاتو او رسنيو مرکز

صاحب امتياز:
د ا.ا.ا. د اطلاعاتو او رسنيو مرکز

د اړيکي شمېره:
+93 (0) 202100633

ايميل:
info@gmic.gov.af

آدرس:
مرمرينه مانۍ، بهرنيو چارو وزارت
ته مخامخ، کابل - افغانستان

د تأسيس کال: ۱۴۴۳ هجري قمري - ۱۴۰۰ هجري شمسي - 2021 ميلادي | د چاپ نيټه: رمضان المبارک ۳، کال ۱۴۴۳ هجري قمري




## د رياست الوزرا اداري مرستيال د ا.ا. تر ټولو لوی بيرغ پورته کړ



د افغانستان اسلامي امارت د رياست الوزرا اداري مرستيال محترم مولوي عبدالسلام حنفي د کابل ښار پر وزير محمد اکبر خان غونډۍ د افغانستان اسلامي امارت تر ټولو لوی بيرغ پورته کړ. پاتې ۲

## د قوش تېپې کانال په جوړېدو سره به ۳ ميليونه جريبه کرنيزه ځمکه خړوبه شي



د بلخ په کلدار ولسوالۍ کې د قوش تېپې کانال د کار د پيل په مراسمو کې د رييس الوزار اقتصادي مرستيال او د کابينې يو شمېر غړو ګډون وکړ. پاتې ۵

## کار راه آهن خواف-هرات به زودی آغاز می گردد



اداره راه آهن افغانستان می گويد که کار راه آهن خواف-هرات در منطقه روزنک به زودی آغاز می گردد. بربنياد اطلاعات اين اداره آغاز بقيه ۵

## ديدار معاون اداری رياست الوزراء با کميشنر عالی سازمان ملل متحد در امور پناهندگان

محترم مولوی عبدالسلام حنفی معاون اداری رياست الوزراء با فليپو گراندی کميشنر عالی سازمان ملل متحد در امور پناهندگان و هيات همراه اش، ديدار نمود. در اين ديدار که راميز الاکبروف بقيه ۵

## د عاليقدر امير المؤمنين په مشرۍ د اسلامي امارت د کابينې غونډه ترسره شوه

د عاليقدر اميرالمؤمنين په مشرۍ د اسلامي امارت د کابينې غونډه په کندهار ولايت کې دايره شوه چې درې ورځې يې دوام در لود.

په غونډه کې د اسلامي امارت زعيم عاليقدر اميرالمؤمنين محترم شيخ الحديث مولوي هبة الله اخندزاده خپلو وزيرانو او مسئولينو ته د بيلابيلو ادارو او شعبو د کارونو، د اسلامي امارت د لا پياوړتيا او قوت، د نظم او دسپلين د برقرارکيدو او د ستونزو د حل په منظور لازمې توصيې او هدايات ترسره کړل.

په غونډه کې د اسلامي امارت محترم رئيس الوزرا، د رئيس الوزرا محترم مرستيالان، د دفاع، کورنيو چارو، اوقافو، اقتصاد، ماليې، عدليې، پاتې ۲

## د کوکنارو د کښت او هر نوع نشه يي موادو د ممنوعيت په اړه د عاليقدر امير المؤمنين فرمان

د عاليقدر امير المؤمنين د فرمان په اساس ټولو هيوادوالو ته خبر ورکول کيږي، چې د دې فرمان د صدور له نيټې ورسته د کوکنارو کرکيله په ټول هيواد کې په مطلق ډول منع دی او هيڅوک دې له دې وروسته په خپلو ځمکو کې د دغه ناوړه بوټي د کرلو هڅه نه کوي.

که خدای مکړه څوک تخلف وکړي، نو کښت به يې له منځه وړل کيږي او له متخلف سره به د اسلامي شريعت له مخې چلند کيږي. پاتې ۲

## د ا.ا. رئيس الوزراء په هېواد کې د نيالګيو کينولو لړۍ د يوه نيالګي په کينولو رسماً پيل کړ



د افغانستان اسلامي امارت رئيس الوزرا محترم ملا محمد حسن اخوند، د ۱۴۰۱ لمريز کال د پسرلي رارسېدو په مناسبت د ارګ په انګړ کې د نيالګيو کينولو لړۍ د يوه نيالګي په کينولو پيل کړ.

دغه مراسم چې د قران عظيم الشان په تلاوت پيل شول، او ګڼ شمېر مشرانو او مسئولينو په کې برخه اخيستې وه، د ښېکمرغه او ښېرزاه پاتې ۲

**شل کلنې جګړې د افغانستان د زېربناوو او نورو اساساتو ترڅنګ چاپېريال هم سخت زيانمن کړی او ټول بايد په ګډه د چاپېريال سمسورتيا کې برخه واخلي.**

محترم ملا محمد حسن اخوند، د افغانستان اسلامي امارت رئيس الوزراء

**خرسندم که سازمان همکاری های اسلامی (OIC) نمايندگی خود را در افغانستان فعال کرد و اميدواريم با دفتر اين سازمان در کابل از نزديک کار کنيم و ما منحيث عضو فعال سازمان همکاری های اسلامی هميشه با شما همکار خواهيم بود.**

محترم مولوی عبدالسلام حنفی معاون اداری رياست الوزراء

## افغانستان ته د مرستو رالېږدولو لپاره د پيسو صندوق جوړ شو



د اسلامي همکاريو ټولنې او اسلامي پراختيايي بانک له افغانستان سره د بشري مرستو تړون لاسليک کړ. د افغانستان لپاره د بشري مرستو د صندوق د جوړولو هوکړه په اسلام آباد پاتې ۲

**د چاپېريال ساتنې د ملي ادارې د معلوماتو پر اساس، ټاکل شوې ده، چې د هېواد په ۳۴ ولايتونو کې شاوخوا ۲۵ ميليونه نيالګي کېنول شي.**

## د رياست الوزرا اقتصادي مرستيال د چين بهرنيو چارو وزير سره وکتل

درياست الوزرا اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د چين ولسي جمهوريت له بهرنيو چارو وزير وانګ يي او ورسره پلاوي سره وکتل.

په دې کتنه کې چې د ارګ په چهارچنار ماڼۍ کې ترسره شوه او د اسلامي امارت يو شمېر لوړپوړو چارواکو او د کابينې غړو هم حضور درلود، دواړو لوريو په مختلفو برخو له هغې ډلې سوداګريزو او ترانزيټي مناسباتو او اقتصادي برخو کې د افغانستان او چين ترمنځ د اړيکو پراختيا په اړه بحث او خبرې وکړې. پاتې ۲


## په ۱۴۰۰ لمريز کال کې د کانونو وزارت نږدې ۸ ميلياردہ افغانۍ عوايد ترلاسه کړي

د کانونو او پټروليم وزارت وايي، دې وزارت په ۱۴۰۰ هجري لمريز کال کې نږدې ۸ مېليارډه افغانۍ عايدات تر لاسه کړي.

د دې وزارت مسئولان زياتوي، اوس مهال ۱۱۳ کوچنې او ستر شرکتونه د هېواد کانونو کېدنې برخه کې فعاليت کوي او اسلامي امارت د کانونو له کيندنې نږدې ۸ مېلياردہ افغانۍ عايدات تر لاسه کړې دي.

ورته مهال د اسلامي امارت مرستيال وياند ټينګار کوي روښتيا او د کانونو غير قانوني پاتې ۶

## در سال ۱۴۰۰ بيش از يک ميليون و ۸۸ هزار متر مربع قالين صادر گرديده است



اتحاديۀ مولدين و صادر کنندگان قالين افغانستان نمايشگاه قالين دست‌باف وطنی را در کابل برگزار کرد. بقيه ۵

## ديدار معاون سياسی رياست الوزراء با رئيس عمومی ورتيکال گروپ

محترم مولوی عبدالکبير معاون سياسی رياست الوزراء با ولاديمير سکوريخين رئيس عمومی ورتيکال گروپ و الکساندر کلاچوف رئيس شرکت ترميم هليکوپترهای کوچک بقيه ۵

## د کوکنارو د کښت او هر نوع نشه يي موادو د ممنوعيت په اړه...

همدارنګه په ټول هیواد کي د نشيي موادو د ټولو ډولونو لکه شراب، هیروئین، شیشه، ټابلیټ کا، چرس او نورو ټولو نشه کونکو موادو استعمال، انتقال، پیر او پلور، تجارت، واردات او صادرات او د نشه يي توکو د تولید کارخانې په جدي توګه منع دي.

د دې فرمان تعمیل لازمي دی، که هر څوک تخلف وکړي، نو د عدلي او قضايي ادارو له لوري به تعقیبیږي او مجازات کیږي به.

والسلام

د اسلامي امارت د مشرتابه مقام

۲/۹/۱۴۴۳هـ ق



## افغانستان؛ محور داد و ستد تجاری میان آسیای مرکزی و جنوبی

کشور های منطقه وارد تعامل سازنده تجاری شده اند و اگر این روند ادامه یابد، وضعیت به نفع رشد همکاری های اقتصادی میان این کشور ها تغییر خواهد کرد.

در اواخر ماهٔ حوت سال ۱۴۰۰، محمولهٔ از کالای هندی با عبور از پاکستان و افغانستان به ازبکستان فرستاده شد؛ قبل از این، در سایهٔ روابط تیره میان اسلام آباد و دهلی، هند هیچگاه نتوانسته بود که از مسیر ترانزیتی افغانستان به سمت آسیای میانه استفاده کند.

وزارت صنعت و تجارت افغانستان، تسهیل بخشی این کالای ترانزیتی هندی را یک گام بزرگ به سوی مبدل شدن افغانستان به یک نقطهٔ اتصال تجارتی میان آسیای جنوبی و مرکزی عنوان می کند.

زمینه سازی برای تطبیق توافق نامهٔ ترانزیتی میان افغانستان و پاکستان و بازگشایی مسیر ترانزیتی به روی لاری های دو کشور نشانهٔ از همکاری ترانزیتی میان افغانستان، پاکستان و کشور های منطقه است.

راهکار منطقه یی برای سرعت بخشیدن به همکاری های اقتصادی و ترانزیتی را می توان در طرح مشترک خط آهن میان پاکستان، افغانستان و ازبکستان مشاهده کرد.

طرح خط آهن «ترانز افغان» با مشارکت پاکستان، افغانستان و ازبکستان به طول ۵۷۳ کیلومتر احداث خواهد شد، گفته می‌شود تاجکستان نیز به این طرح ملحق خواهد شد. خط آهن ترانز افغان کوتاه‌ترین و اقتصادی ترین مسیر برای پاکستان از طریق افغانستان برای دسترسی به کشورهای آسیای میانه خواهد بود که با حرکت از شهر پشاور و عبور از کابل و مزار شریف، وارد ازبکستان می‌شود که گامی در مسیر تقویت رفاهٔ منطقه یی و مقابله با تحرکات ضد امنیت موثر خواهد بود.

به همین ترتیب، همزمان با این طرح، طرح راه آهن خواف-هرات از سوی ایران، این کشور را به آسیای مرکزی بیشتر نزدیک خواهد کرد که می تواند رویای احیای راهٔ ابریشم را که قدیمی ترین مسیر تجاری در آسیا بوده است احیا کند.

شایان ذکر است، در روابط تجاری میان کشور های منطقه، نباید تنها استفاده از مسیر ترانزیتی افغانستان به عنوان یک مسیر کوتاه و کم هزینه مورد بحث باشد، افغانستان با سهولت های ترانزیتی که دارد، حقوق معین و تعریف شده هم دارد که کشور های دیگر باید به آن احترام گذارند و آن را رعایت کنند. با حاکمیت امارت اسلامی، تحولات مهم و ارزشمندی که اخیراً در بخش ترانزیت و تجارت میان کشور های منطقه به وجود آمده است، دوامدار باقی بماند و باعث ایجاد توافقات فراتر اجتماعی، اقتصادی و سیاسی میان این کشورها و فراتر از منطقه شود. #

## د ریاست الوزرا اقتصادي مرستیال د چین بهرنیو چارو...

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د چین بهرنیو چارو وزیر او ورسره پلاوي ته د ښه راغلاست ترڅنګ وویل، افغانستان او چین تاریخي او دوستانه اړیکې لري او په سختو شرایطو کې د یو بل ترڅنګ ولاړ دي، په همدې اساس د دغو اړیکو ټینګښت او پراختیا زموږ لپاره ډېر اهمیت لري.

نوموړي زیاته کړه، اسلامي امارت له ټولو هیوادونو په ځانګړې ډول چین سره د اړیکو پراختیا هڅه کوي او له افغانستان سره یې د چین د بشري مرستو مننه وکړه.

د ریاست الوزرا اقتصادي مرستیال پر دې ټینګار چې د افغانستان خاورې څخه به د هېڅ هیواد پر ضد استفاده ونشي وویل، موږ د چین ولسي جمهوریت سره ښتینو همکاریو ته ژمن یوو او په افغانستان کې د سولې او امنیت تامین د سیمې د سولې او ثبات په معنی دی.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند دې ته په اشارې چې افغانستان پریمانه کانونه لري، له چین څخه وغوښتل چې د کانونو د استخراج، د انکشافي پروژو تطبیق او د لوګر د مس عینک پروژې کار پیل کړي.

د ریاست الوزرا اقتصادي مرستیال د څنغوزو او زعفرانو په ګډون د کرنیزو محصولاتو د صادراتو پر پراختیا ټینګار وکړ او په لویه پروژه (یو کمربند-یوه لار) کې یې د افغانستان د شاملولو او په هغه هیواد کې د افغان محصلینو د درسونو پیل غوښتنه وکړه.

د چین ولسي جمهوریت د بهرنیو چارو وزیر وانګ یي وویل، افغانستان او چین لرغونې او تاریخي اړیکې لري او موږ هیله لرو د دواړو هیوادونو دوستي دوام او پیاوړې شي.

د چین ولسي جمهوریت د بهرنیو چارو وزیر وویل، هیواد یې له افغانانو سره عاجلې مرستې برابرې کړې دي او موږ پر هغو سیمو تمرکز کوو چې عاجلو مرستو ته اړتیا لري.

وانګ یي څرګنده کړه، چین له افغانستان سره د سوداګریزو اړیکو پیاوړتیا په برخه کې بریالی دی او تیار دی ترڅو د کانونو د استخراج او د سړکونو او روغتونونو جوړولو سره همکاري وکړي.

همداراز چین ته د افغانستان د کرنیزو محصولاتو د وارداتو زیاتوالي په برخه کې به هڅه وکړو او د افغانستان په اقتصادي وده کې د افغان محصلینو رول ته په پام به د چین سفارت په دې برخه کې اقدام وکړي.

نوموړي د دواړو هیوادونو ترمنځ په امنیتي همکاریو ټینګار وکړ وې ویل، د چین په کوربه توب په نږدې راتلونکې کې د بهرنیو چارو وزیرانو یوه غونډه جوړیږي او د اسلامي امارت د بهرنیو چارو سرپرست وزیر ته یې هم د ګډون بلنه ورکړه.

په دې کتنه کې د سوداګرۍ او صنعت او د کانونو او پټرولیم سرپرست وزیرانو او د یو شمېر وزارتونو مرستیالانو هم خبرې وکړې او په چین کې د افغانستان د سوداګریزو اتشو د بیا فعالیت، ځینو توکو ته د مارکېټونو جوړولو، د ځانګړو سوداګریزو، ټرانسپورټي، لوجستیکي او مالي چوکاټونو برابرولو، د صادراتو د معیاري کولو لپاره د چین د معتبرو لابراتوارونو د ښانګو پرانیستو، افغان سوداګرو ته د ویزو ورکړې، د پانګونې د پراختیا هوکړه لیکونو لاسلیکولو، د اقتصادي زونونو جوړولو، له اوبو، باد، ډبرو او لمر څخه په استفادې د انرژۍ په برخه کې د پانګونې او د صنعت په برخه کې افغان انجینرانو ته د روزنځایونو جوړولو په اړه یې خپل وړاندیزونه مطرح کړل.

همداراز یادو مسوولینو د مس عینک د استخراج پروژې د بیا کار پیلولو او د هیواد د نورو کانونو د استخراج په برخه کې د چین له ظرفیتونو څخه د استفادې او د جیولوجي سروې او کانونو استخراج په برخه کې د افغان کادرونو روزلو په اړه خپلې غوښتنې د چین پلاوي سره هم شریکې کړې.#

**اوسنی نظام یو داسې نظام دی چې له ځانګړي قوم او سیمې څخه جوړ نه دی بلکې د ټولو افغانانو له خوا جوړ نظام دی او په هغه کې ټولو ونډه اخیستې ده.**

محترم مولوي امیر خان متقي، د بهرنیو چارو سرپرست وزیر

## د عالیقدر امیر المؤمنین په مشرې د اسلامي امارت د کابینې...

فوائد عامې، امربالمعروف او نهی عن المنکر، د کلیو پراختیا، مخابراتو، کار او ټولنیزو چارو، عالي تحصیلات، معارف، معادن او پټرولیم، کرنې، عامې روغتیا، او تجارت او هوانوردۍ محترمو وزیرانو، د سترې محکمې محترم قاضي القضات، د استخباراتو، علومو اکادمۍ، د چارو اداري او احصایې اداري محترمو لوی رئیسانو، د افغانستان بانک او سرې میاشتې محترمو رئیسانو، محترم کابل ښاروال او دغه راز د اسلامي امارت ویاند او نورو مسئولینو ګډون درلود.

د غونډې په جریان کې د اسلامي امارت د ادارو په قوانینو، اجرائاتو، له خلکو سره په تعامل، اقتصادي ستونزو ته د اساسي حل لارو پیداکولو، د اسلامي امارت د ټولو مجاهدینو د را ټولولو او په امنیتي ادارو کې د استخدام او تنظیم کولو او په مجموع کې په ټولو دولتي امورو کې د لا ښه پرمختګ په هدف لازم هدایات ترسره او مهم تصامیم ونیول شول.

همدارنګه د عالیقدر امیرالمؤمنین لخوا په هیواد کې د اسلامي شریعت د لاښه پلي کیدو په اړه مربوطه ارګانونو ته مشخصې لارښوونې وشوې، چې په نتیجه کې به یې اسلامي احکام په منظم او ښه ډول په ټولنه کې پلي کیږي او ټول افغانان به د اسلامي احکامو تر چتر لاندې آرام او سوکاله ژوند تیروي.

په غونډه کې د ریاست الوزراء د مرستیال محترم ملا برادر اخوند په مشرۍ اقتصادي کمیسیون ته دنده وسپارل شوه چې د هېواد د اقتصادي ودې او رفاه لپاره کورنۍ او بهرنۍ پانګونه راجلب کړي، ترڅو د بریښنا د تولید، سړکونو جوړولو او د معادنو په سمه توګه استخراج ته لاره هواره شي او د ټولو سترو او کوچنیو اقتصادي پروژو او برنامو لپاره لازم سهولتونه ایجاد کړي.

همدا ډول د ریاست الوزراء اداري مرستیال محترم مولوي عبدالسلام حنفي په مشرۍ اداري کمیسیون ته وظیفه ورکړل شوه چې د اداري سیستمونو د اصلاح او په مالي او نورو برخو کې د کاغذ پرانۍ او ستونزو د لرې کولو په منظور لازم ګامونه واخلي او بیا یې د مشرتابه له محترم مقام سره شریک کړي.

دغه راز په غونډه کې په نشه يي موادو د روږدو کسانو د را ټولولو او د هغوی د ښې معالجې او په هیواد کې د نشه يي توکو د پیر او پلور د مخنیوي او د یو لړ نورو مهمو مواردو په اړه هم لازم هدایات ترسره شول.

د امیرالؤمنین لخوا د دولتي وسلو، موټرو او نورو توکو د حفاظت او له بیت المال سره د ډېر احتیاط په اړه ټولو وزیرانو او مسئولینو او اړوندو ادارو ته اړین هدایات ورکول شول. #

## د اسلامي امارت رئیس الوزرا د پسرلي...

افغانستان په هیله دغه نیالګی کېنول شو.

محترم ملا محمد حسن اخوند د پسرلي په مناسبت پخپل پیغام کې له ټولو هیوادوالو وغوښتل چې د چاپېریال زرغونتیا او د ودان او ښېرزاه افغانستان لپاره پخپلو سیمو، کورونو او هر مناسب ځای کې یو، نیالګي کېنوي.

رئیس الوزرا په خپل پیغام کې وویل: شل کلنې جګړې د افغانستان د زېربناوو او نورو اساساتو ترڅنګ چاپېریال هم سخت زیانمن کړی او ټول هېوادوال باید په ګډه د چاپېریال سمسورتیا کې برخه واخلي.

محترم رئیس الوزرا د خپلو خبرو په پای کې زیاته کړه، د افغانستان د پرمختګ او د خلکو د ژوند هوساینې لپاره اسلامي امارت چاپېریال ساتنې ته جدي پاملرنه کوي.#

## د ریاست الوزرا اداري مرستیال د ا.ا. تر ټولو لوی بیرغ...

په دغو مراسمو کې چې د کابینې یو شمېر غړو او د اسلامي امارت نورو مشرانو هم حضور درلود، محترم حنفي په پرانېستې وینا کې وویل، د اسلامي امارت سپین بیرغ د سولې، ورورولۍ، حاکمیت، توحید او اسلامي نظام نښه ده.

محترم حنفي وویل، د سپین بیرغ او توحید کلمې لوړولو لپاره زرګونه ځوانانو قربانۍ ورکړې دي او نن د هغوی د قربانیو په پایله کې په ټول افغانستان کې یو مقتدر اسلامي نظام حاکم شوی او پالل او ساتل یې د ټولو دنده ده.

د ریاست الوزرا اداري مرستیال د اسلامي امارت لید لوري ته په اشارې وویل، اقتصادي ثبات او هوساینې ته د رسېدو لپاره به په ټول هیواد کې د بنسټیزو پروژو کارونه پیل شي او مترقي افغانستان ته د رسېدو لپاره مو پیل له خوش تیپې کانال څخه وکړ چې له ملي بودجې څخه جوړیږي.

د چارو اداري مرستیال محترم شیخ مولوي نورالحق انور په هیواد کې د اسلامي نظام د حاکمیت لپاره د قربانیو ستاینه وکړه وې ویل، سپین بیرغ د هیواد د خپلواکۍ، امن او د مرکزي حکومت د استحکام لویه نښه ده.

په دې مراسمو کې د ملي دفاع وزارت لوی درستیز محترم قاري فصیح الدین ډاډ ورکړ چې د هیواد امنیتي او دفاعي ځواکونه د افغانستان د خپلواکۍ او ځمکنۍ بشپړتیا د ساتلو بشپړه وړتیا لري او هیچاته به اجازه ورنه کړي چې افغانستان بیا ملک الطوایفي ته بوځي.

د ریاست الوزرا د عامه او ستراتېژیکو اړیکو اداري مرستیال محترم مولوي احمدالله متقي له ټولو مېلمنو او ګډونوالو څخه د مننې ترڅنګ د سپین بیرغ پورته کېدو مبارکي وویله او د توحید کلمه یې د ټولو افغانانو ګډ اسلامي او ملي ارزښت یاد کړ.

پر وزیر محمد اکبر خان غونډۍ د اسلامي امارت د سپین بیرغ پورته کولو په مراسمو کې قاري محمد ابراهیم شېرزي سپین بیرغ ته خپله ترانه هم وویله او یاد مراسم د حج او اوقافو سرپرست وزیر محترم مولوي ثاقب په دعایې سره پای ته ورسېد.#

## د ریاست الوزرا اقتصادي مرستیال د ټاپي پروژې له اجرائیوي رئیس سره وکتل

د ریاست الوزراء لومړي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر د ټاپي پروژې له اجرائیوي رئیس محمد مراد امانوف سره وکتل.

محترم ملا عبدالغني برادر د ټاپي پروژې د پیل لپاره په هېواد کې اوسنی رامنځته شوی وضعیت یو ښه فرصت وباله او زیاته یې کړه، چې اسلامي امارت د یادې پروژې د پیل لپاره پوره چمتووالی لري او په دغه برخه کې هر ډول همکارۍ ته تیار دی.

وروسته، د ټاپي پروژې اجرائیوي رئیس د اسلامي امارت له هر اړخیزې همکارۍ په مننې وویل چې د ټاپي پروژې عملي چارې به ډېر ژر له هرات ولایت پیل شي او د چارو د ښه مدیریت لپاره وړاندیز وکړ ترڅو د دواړو هېوادونو له خوا با صلاحیته ټیمونه رامنځته شي.

نوموړي زیاته کړه، نړیوال اسلامي بانک، د اسیا پرمختیایي بانک او همدارنګه روسي، چینایي او ځینې عربي بانکونه هم په ټاپي پروژه کې پانګونې ته چمتو دي. ښاغلي مراد وویل، له ټاپي پروژې سره یوځای به د ټاپ پروژې عملي چارې هم پیل شي.#

**امارت اسلامی در زمینه برگشت مهاجرین و ایجاد شرایط برای اسکان مجدد بیجاشدگان داخلی، آماده هرگونه همکاری می باشد.**

محترم مولوی عبدالسلام حنفی معاون اداری ریاست الوزراء

## افغانستان ته د مرستو رالېږدولو...

کې د اسلامي همکاریو ټولنې او د اسلامي پراختیایي بانک ترمنځ لاسلیک شوه.

دغه هوکړه لیک د اسلامي همکاریو ټولنې د سکرتر جنرال حسین ابراهیم طه او د اسلامي پراختیایي بانک د مشر محمد سلیمان الجاسر ترمنځ لاسلیک شو.

د دغه صندوق د جوړولو پرېکړه د ۲۰۲۱ زېږدیز کال د ډسمبر پر ۱۹ نېټه د اسلامي همکاریو ټولنې د بهرنیو چارو وزیرانو د شورا په اووه لسمه ځانګړې غونډه کې شوې ده.

د اسلامي همکاریو سازمان به د دې صندوق له لارې ټولې راټولې شوې مرستې په افغانستان کې د بشري ناورین د مخنیوي، د پراختیایي پروژو د تطبیق او د اسلامي امارت د لومړیتوبونو په برخه کې مصرف کړي.#

**روڼتیا او د افغانستان کانونو ته جدي رسېدنه په تېره د کانونو سمه کېندنه هغه ستر لاملونه دي چې د کانونو او پټرولیم وزارت عایدات یې لوړ کړي.**

د اسلامي امارت مرستیال ویاند محترم انعام‌الله سمنګانی

## دیدار معاون اداری ریاست الوزراء با نمایندۀ خاص سکرتر جنرال سازمان همکاری های اسلامی

محترم مولوی عبدالسلام حنفی معاون اداری ریاست الوزراء با طارق علی بخیت نمایندۀ خاص سکرتر جنرال سازمان همکاری های اسلامی و هیات همراه اش، در ارگ دیدار نمود.
محترم مولوی عبدالسلام حنفی ضمن خوش آمدید به هیات متذکره، گفت: خرسندم که سازمان همکاری های اسلامی (OIC) نمایندگی خود را در افغانستان فعال کرد و امیدواریم با دفتر این سازمان در کابل از نزدیک کار کنیم و ما منحیث عضو فعال سازمان همکاری های اسلامی همیشه با شما همکار خواهیم بود.
سپس طارق علی بخیت، گفت: ما با تمام کشورهای اسلامی به ویژه افغانستان کار می کنیم و به همین منظور دفتر خود را در کابل افتتاح نمودیم.
وی افزود: سازمان همکاری های اسلامی با ایجاد یک صندوق برای افغانستان تلاش دارد تا کمک های جمع آوری شده در این صندوق، در بخش های کمک های بشری، پروژه های انکشافی و اولویت های مشخص شده از سوی امارت اسلامی به مصرف برسد.
محترم حنفی ضمن تقدیر از این ابتکار سازمان همکاری های اسلامی، افزود که حکومت کنونی متعهد است حقوق شرعی و انسانی افغان‌ها را تامین و از قاچاق و استعمال مواد مخدر جلوگیری کند. وی همچنان از سازمان همکاری های اسلامی خواست تا در زمینه کشت بدیل با دهاقین کشور همکاری نماید.#

## وزارت کار مسئول فراهم کردن زمینه کار برای جوانان و افراد معلول است

معاون اداری ریاست الوزرا می گوید که مسئولیت وزارت کار امور اجتماعی مساعد کردن زمینه کار برای جوانان و افراد معلول است.
محترم حنفی گفت که امارت اسلامی مسئولیت دارد تا در خصوص فراهم کردن زمینه های بهتر تعلیم و تحصیل برای آنعده یتیمان که در جریان جنگ های خانه مان سوز پدران شان را از دست داده اند، رسیده گی کند.#

**موږ غواړو چې افغانستان پر خپلو پښو ودرېږي او د ټولو افغانانو ستونزې حل شي، د افغانستان له خلکو سره د بشرپاله مرستو ترڅنګ باید له افغانستان سره پراختیایي مرستې هم وشي چې د کار او بار زمینه برابره شي.**
محترم مولوي امیر خان متقي، د بهرنیو چارو سرپرست وزیر

## د ریاست الوزرا اقتصادي مرستیال د افغانستان لپاره د روسیې...

د ریاست الوزرا اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د افغانستان لپاره د روسیې ځانګړي استازي ضمیر کابلوف او مل پلاوي سره په ارګ کې وکتل.
په پیل کې د ریاست الوزرا اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند ضمیر کابلوف او ورسره پلاوي ته د ښه راغلاست ترڅنګ وویل، افغانستان غواړي د روسیې په ګډون له ټولو هیوادونو سره اقتصادي او سیاسي اړیکي پیاوړې پاتې ۲
او ورته پراختیا ورکړي.
محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په افغانستان کې سراسري امنیت ته په اشارې وویل، په ټولو برخو کې پانګونې ته زمینه برابره شوې او د روسیې دولت او خصوصي سکتور دې پکې برخه واخلي.
د افغانستان لپاره د روسیې ځانګړي استازي ضمیر کابلوف له اسلامي امارت سره په اقتصادي، سیاسي او امنیتي برخو کې د روسیې د همکاریو ډاډ ورکړ وې ویل، افغانستان ته دې هر اړخیز پلاوي راتګ ښیي چې روسیه د اسلامي امارت له لوري د لومړیتوبونو تر ټاکلو وروسته عملي اقداماتو ترسره کولو ته ژمنه ده.

## در سال ۱۴۰۰ بیش از یک میلیون و ۸۸ هزار متر مربع قالین...

در این نمایشگاه، محمد یونس مومند، سرپرست اتاق های تجارت افغانستان گفت که در سال ۱۳۹۹ بیش از ۳۰۰ هزار متر مربع قالین صادرات داشتیم، اما در سال ۱۴۰۰، افغانستان بیش از یک میلیون و ۸۸ هزار و ۴۹۵ متر مربع قالین صادرات داشته است.
در این نمایشگاه تاجران و صنعت کاران از کشور های منطقه و جهان خواستند تا به منظور رشد بیشتر سکتور خصوصی و تقویت اقتصاد ملی امارت اسلامی هرچه زودتر به رسمیت شناخته شود.
آقای مومند همچنان اضافه کرد که افغانستان در سال ۱۴۰۰ بیش از یک میلیارد دالر صادرات داشته که این یک گام مثبت در عرصۀ خودکفایی افغانستان است.
به همین ترتیب، شیرباز کمین‌زاده، رییس اتاق‌های معادن و صنایع افغانستان از تمام تولید کننده گان داخلی خواست تا برای تقویت اقتصاد کشور و رسیدن به خود کفایی در خصوص گسترش صنعت افغانستان توجه بیشتر نمایند.
همچنان محترم انعام الله سمنگانی معاون سخنگوی امارت اسلامی که در این نمایشگاه اشتراک کرده بود گفت: قالین یکی از اقلام مهم صادراتی افغانستان بوده که حدود یک میلیون تن مشمول خانم ها مصروف قالین بافی در کشور اند. وی اطمینان داد که امارت اسلامی از تمام مولدین و صنعتکاران حمایت می کند و برای فراهم کردن تسهیلات بیشتر تلاش دارد.
صنعت قالین بافی حدود ۹ هزار سال قبل از امروز در افغانستان آغاز شد و بیش از ۵۰۰ نوع قالین با رنگ و دیزاین های مختلف در کشور بافته می شود.#
بربنیاد اطلاعات این اداره آغاز بازرگانی از این راه آهن در اولویت قرار دارد و تا حال سه بار هیات های امارت اسلامی و جمهوری اسلامی ایران در باره آغاز انتقال کالا و مسافران از طریق این راه آهن دیدار و گفتگو کرده اند.
قطعه سوم راه آهن خواف - هرات از منطقه چاه سرخ آغاز و تا منطقه روزنگ هرات ادامه می یابد و قرار است همین مسیر پس از حفظ و مراقبت به روی مسافران و کالاهای بازرگانی باز شود.
وزارت اقتصاد می گوید که این راه آهن در رشد اقتصاد کشور نقش مهمی دارد.
عبداللطیف نظری، معین مسلکی وزارت اقتصاد، گفت: راه آهن نقش بسیار کلیدی در رشد و توسعه اقتصادی دارد از جمله گسترش راه اهن خواف هرات می تواند در حمل و نقل داد و ستد اقتصادی افغانستان نقش برجسته ایفا کند.
بربنیاد اطلاعات اداره راه آهن افغانستان، راه آهن خواف-هرات ایران را از طریق افغانستان به چین وصل می کند. #

## دیدار معاون سیاسی ریاست الوزراء با رئیس عمومی...

در قصر سپیدار دیدار نمود.
در این دیدار، ابتدا ولادیمیر سکوریخین و الکساندر کلاچوف از همکاری خویش در بخش ترمیم هلیکوپتر های ساخت روسیه در افغانستان، انتقال پرزه جات و تربیت پرسونل تخنیکی اطمینان داد.
محترم مولوی عبدالکبیر از همکاری آنان در بخش ترمیم هلیکوپترها و پیشنهادات آنان قدردانی نمود و گفت که اکنون در افغانستان امنیت تامین است و نسبت به هر زمان دیگر زمینه برای سرمایه گذاری خارجی مساعد می باشد.
معاون سیاسی ریاست الوزراء تاکید کرد که امارت اسلامی افغانستان مصمم است برای ترقی و آبادانی کشور، تلاش های خستگی ناپذیر انجام دهد.#

**بعد از سالها مبارزه، جهاد برحق ما پیروز شد و بزرگترین قدرت جهان شکست خورد و نصرت الهی نصیب ما شد.**
محترم قاری فصیح الدین فطرت، لوی درستیز وزارت دفاع ملی

## د قوش تېپې کانال په جوړېدو سره به ۳ میلیونه...

په دې مراسمو کې د رییس الوزار اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر وویل، د دغه کانال د جوړېدو چارې به په دوو برخو کې تر راتلونکو پنځو کلونو بشپړې شي.
د رییس الوزرا اقتصادي مرستیال په وینا، د دغه کانال په جوړېدو سره به افغانستان د کرنیزو چارو په برخو کې پر ځان بسیاینې ته نږدې شي.
پر دغه کانال شاوخوا ۶۰ میلیارده افغانۍ لګښت راځي او د ملي پراختیا شرکت له بودیجې ورکول کیږي. دغه کانال به تر جوړېدو وروسته په یوه ثانیه کې د ۶۵۰ متر مکعب اوبو د لېږدولو ظرفیت ولري.
د اسلامي امارت ویاند محترم ذبیح الله مجاهد چې په دې مراسمو کې یې ګډون کړی وو وې ویل: دغه کانال به ۲۸۰ کیلومتره اوږد والی، سل متره پلنوالی او اته نیم متره ژوروالی لري.
د بلخ سیمه ییز مسئولین د دغه کانال د جوړېدو د چارو پیلېدل یوه لویه لاسته راوړنه ګڼي او وایي چې، په دغه کانال کې به شاوخوا ۲۰۰ زره کسانو ته په مستقیمه او یا هم غیر مستقیم ډول د کار کولو زمینه برابره شي.
د قوش تېپه کانال چې ۲۸۰ کیلومتره اوږدوالی او سل متره سور لري، د بلخ په کلدار ولسوالۍ کې پیل او له جوزجان ولایت څخه په تېرېدو د فاریاب په اندخوی ولسوالۍ کې پایته رسېږي. د دغه کانال په جوړېدو سره به شاوخوا ۳ میلیونه جریبه کرنیزه ځمکه خړوبه شي.#

## افغانستان به د نورو هېوادونو له مرستو...

د لنډې مودې لپاره د هېواد اړتیاوې پوره کوي.
محترم ملا عبدالغني برادر ټینګار وکړ چې د کرنې د ودې لپاره به په نږدې ورځوکې یوه ملي پروژه پیل او ګټې اخیستنې ته وسپارل شي.
د رییس الوزرا اقتصادي مرستیال له ټولو اړونده وزارتونو ووغوښتل، چې د نورو هېوادونو د مرستو په انتظار پاتې نه شي او د هېواد د پرمختګ لپاره خپلې هڅې زیاتې کړي.
د بزګر د جشن او د کرنیزو محصولاتو نندارتون د کرنې، اوبولګونې او مالدارۍ وزارت له لوري د خلورو ورځو لپاره د کابل په بادام باغ سیمه کې ترسره شو چې په دې نندارتون کې د هېواد له بیلابیلو ولایتونو څخه کرنیز، خوراکي او صنعتي توکي نندارې ته وړاندې شول. #

**صنعت قالین بافی حدود ۹ هزار سال قبل از امروز در افغانستان آغاز شد و بیش از ۵۰۰ نوع قالین با رنگ و دیزاین های مختلف در کشور بافته می شود.**

## از سرگیری برنامه‌های حمایوی سازمان جهانی بهداشت...

مسئولان این نهاد می‌افزایند که برای بهبود و کیفیت عرضه خدمات بهداشتی برنامه‌های تازه روی دست دارند.
احمد ولی راسخ، مسئول پروژه صحتمندی می گوید: تلاش ما این است خدماتی که قبلا موجود بوده آنها ادامه پیدا کند و دوم در حالات اضطراری بتوانیم خدمات با کیفیت برای افغان ها عرضه کنیم.
این برنامه آموزشی برای بهبود سطح عرضه خدمات صحی، تامین شفافیت و هماهنگی بیشتر میان نهاد های ذیربط برگزار شد که در آن مسئولان صحی از ۳۴ ولایت کشور اشتراک ورزیدند.
در همین حال، وزارت صحت عامه از جلوگیری فساد و شفافیت در روند عرضه خدمات صحی کشور اطمینان می‌دهد.
نجیب الله اخند زاده، معین عرضه خدمات صحی می گوید: تعهد امارت اسلامی افغانستان مبارزه جدی و قاطع با فاسد در کشور است و از تمام کارمندان صحی می خواهم تا با تعهد وظایف محوله را انجام دهند. #

## کار راه آهن خواف-هرات به زودی...

بازرگانی از این راه آهن در اولویت قرار دارد و تا حال سه بار هیات های امارت اسلامی و جمهوری اسلامی ایران در باره آغاز انتقال کالا و مسافران از طریق این راه آهن دیدار و گفتگو کرده اند.
قطعه سوم راه آهن خواف - هرات از منطقه چاه سرخ آغاز و تا منطقه روزنگ هرات ادامه می یابد و قرار است همین مسیر پس از حفظ و مراقبت به روی مسافران و کالاهای بازرگانی باز شود.
وزارت اقتصاد می گوید که این راه آهن در رشد اقتصاد کشور نقش مهمی دارد.
عبداللطیف نظری، معین مسلکی وزارت اقتصاد، گفت: راه آهن نقش بسیار کلیدی در رشد و توسعه اقتصادی دارد از جمله گسترش راه اهن خواف هرات می تواند در حمل و نقل داد و ستد اقتصادی افغانستان نقش برجسته ایفا کند.
بربنیاد اطلاعات اداره راه آهن افغانستان، راه آهن خواف-هرات ایران را از طریق افغانستان به چین وصل می کند.#

## دیدار معاون اداری ریاست الوزراء با کمیشنر عالی...

معاون نمایندۀ خاص ملل متحد برای افغانستان و خانم کارلین ونبرن رئیس دفتر کمیشنری عالی ملل متحد در امور پناهندگان در افغانستان نیز حضور داشتند، در مورد فعالیت های این اداره و چگونگی ارائه خدمات بهتر برای عودت کنندگان و بیجاشدگان داخلی، بحث و تبادل نظر صورت گرفت.
فلیپو گراندی کمیشنر، گفت که سازمان ملل متحد در امور پناهندگی، از سال ۱۹۷۹ در راستای کمک به مهاجرین افغان در پاکستان و ایران کار کرده و اکنون نیز به فعالیت های خویش ادامه میدهد.
وی افزود: تامین امنیت در افغانستان فرصت خوبی را برای ما فراهم کرده که با وزارت مهاجرین و عودت کنندگان همکاری بیشتر نماییم و از برگشت ۱۷۶ هزار بیجاشدۀ داخلی دوباره به خانه های شان طی چند ماه اخیر، خرسند هستیم.
فلیپو گراندی بر ایجاد فضای اعتماد بخاطر تشویق مهاجرین برای عودت به افغانستان تاکید ورزید و گفت که ۵۵ ساحه به سطح ولسوالی ها و پنج شهر عمدۀ افغانستان برای عودت و ادغام مجدد تشخیص شده است که در این ساحات برعلاوۀ کمک های بشری، کارهای عمرانی و بازسازی را نیز انجام می دهیم.
سپس، محترم مولوی عبدالسلام حنفی ضمن ابراز امتنان از فعالیت های کمیشنری عالی ملل متحد در امور پناهندگان در افغانستان، ضمن بحث روی چگونگی مهاجرت افغان ها طی چند دهه اخیر، افزود که امارت اسلامی در زمینه برگشت مهاجرین و ایجاد شرایط برای اسکان مجدد بیجاشدگان داخلی، آماده هرگونه همکاری می باشد.
معاون اداری ریاست الوزراء خاطرنشان کرد که برای عودت کنندگان تنها کمک های بشری کافی نیست، باید در زمینه ایجاد فرصت های کاری به آنان نیز توجه صورت گیرد و این کار با تطبیق پروژه های انکشافی در سراسر کشور امکان پذیر است.#

**امارت اسلامی افغانستان مصمم است برای ترقی و آبادانی کشور، تلاش های خستگی ناپذیر انجام دهد.**
محترم مولوی عبدالکبیر معاون سیاسی ریاست الوزراء

## د افغانستان او ایران ترمنځ د پولي د امنیت پر ټینګښت...

د ملي دفاع وزارت سرپرست وایي چې د هېواد په پولو کې امنیتي ګواښونه نشته او امنیتي ځواکونه د هېواد پر ټولو پولو ټینګه ولکه لري.
د ملي دفاع وزارت سرپرست له سیاستوالو غواړي، چې هېواد ته راستانه شي. محترم مجاهد دغه راز خبرداری ورکوي، که چېرې څوک له پوځي تجهیزاتو ناوړه ګټه پورته کړي، نو قانوني چلند به ورسره وشي.#

# ارګ پاڼه



د افغانستان اسلامي امارت
د اطلاعاتو او رسنیو مرکز

**صاحب امتیاز:** د ا.ا.ا. د اطلاعاتو او رسنیو مرکز
**د اړیکي شمېره:** +93 (0) 202100633
**ایمیل:** info@gmic.gov.af
**آدرس:** مرمرینه ماڼۍ، بهرنیو چارو وزارت ته مخامخ، کابل - افغانستان


## استقبال امارت اسلامی از تمدید ماموریت یوناما در افغانستان

مسئولان در امارت اسلامی از تمدید یک ساله ماموریت یوناما در افغانستان استقبال نمودند.
محترم بلال کریمی معاون سخنگوی امارت اسلامی ابراز امیدواری کرد که تمدید این ماموریت در تعامل افغانستان با جهان، دوام همکاری های کشور های کمک کننده و حل معضلات اقتصادی و سیاسی کشور سودمند واقع شود.
قطع نامه تمدید ماموریت یوناما یا دفتر معاونت سازمان ملل در افغانستان، در نشست شورای امنیت این سازمان به رای گذاشته شد و این قطع نامه با چهارده رای موافق به تصویب رسید.
در همین حال نماینده همیشه گی بریتانیا، سفیر ناروی و برخی از شخصیت های مطرح در سازمان ملل متحد نیز تمدید یوناما را در افغانستان در اوضاع کنونی برای افغانستان مهم دانسته و آنرا برای حل معضلات کنونی سودمند می دانند. #

## د نیالګیو له کېنولو سره د هېواد زرغونتیا کې ونډه واخلئ

د ریاست الوزرا اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر په کابل کې د نیالګیو د کېنولو په یوه کمپاین کې ګډون وکړ او له خلکو یې وغوښتل چې د هېواد په زرغونتیا او د نیالګیو په کېنولو کې ونډه واخلي.
په کابل کې ګڼ شمېر ډیپلوماتانو چې په دې کمپاین کې یې برخه اخیستې وه له ټولو هېوادوالو وغوښتل چې د نیالګیو په کېنولو او روزنه کې فعاله ونډه واخلي.
د چاپېریال ساتنې د ملي ادارې د معلوماتو پر اساس، ټاکل شوې ده، چې د هېواد په ۳۴ ولایتونو کې شاوخوا ۲۵ میلیونه نیالګي کېنول شي. #

**د کابینې په غونډه کې محترم ملا برادر اخوند په مشرۍ اقتصادي کمیسیون ته دنده وسپارل شوه چې د هېواد د اقتصادي ودې او رفاه لپاره کورنۍ او بهرنۍ پانګونه راجلب کړي، ترڅو د بریښنا د تولید، سړکونو جوړولو او د معادنو په سمه توګه استخراج ته لاره هواره شي او د ټولو سترو او کوچنیو اقتصادي پروژو او برنامو لپاره لازمې سهولتونه ایجاد کړي.**

## په ۱۴۰۰ کال کې د کانونو وزارت د نږدې ۸ میلیارد...

کېندلو مخنیوی هغه ستر علتونه دي چې د کانونو وزارت عایدات یې لوړ کړي.
د اسلامي امارت مرستیال ویاند محترم انعام‌الله سمنګانی وایي: روښتیا او د افغانستان کانونو ته جدي رسېدنه په تېره د کانونو سمه کېندنه هغه ستر لامونه دي چې د کانونو او پټرولیم وزارت عایدات یې لوړ کړي.
بل خوا د اقتصادي چارو څېړنې شنونکي په دې باور دي چې په مسلکي ډول د کانونو استخراج د هېواد عواید لوړوي. د اقتصادي چارو کارپوه عبدالبصیر رښتیا په دې اړه وایي: له نېکه مرغه په افغانستان کې له سیاسي بدلونونو وروسته، د قانونو حاکمیت او د امنیت راتلل د دې لامل شوي چې د هېواد له کانونو د پخوا پرتله د حکومت عواید ډېر شي.
د کابل د کانونو او صنایعو خونې اجرایوي رییس محمد کریم عظیمي وایي: د هېواد صنعت کارانو ته د تېرې کانونو قراردادونو سپارل د دې لامل شوی چې د حکومت عواید د کال په لومړیو شپږو میاشتو کې له یو میلیارډ څخه د کال دویمو شپږو میاشتو کې اووه یا اته میلیارډ افغانو ته لوړ شي چې دا یو ښه زیر دی.
بل پلو د اقتصادي چارو څېړنې شنونکي وایي، که د هېواد کانونه په قانوني توګه وکیندل شي، له یوې خوا به خلکو ته د کار زمینه برابره او له بل لوري به اقتصادي ستونزې هم اوارې شي. #

## د افغانستان او ایران ترمنځ د پولې د امنیت پر ټینګښت د مجاهد ټینګار

محترم مولوي محمد یعقوب مجاهد د ملي دفاع وزارت سرپرست د افغانستان او ایران د دواړو هېوادونو د ګډې پولې د امنیت پرساتلو ټینګار کوي. پاتې ۵

**مجاهدین امارت اسلامی افغانستان با اسحله و معنویات توانستند که کشور را از چنگ اشغال نجات بدهند و حالا وقت آن مساعد شده است که با قلم این کشور را آباد و شکوفا سازند.**

محترم قاری دین محمد، سرپرست وزارت اقتصاد

**د کابینې په غونډه کې محترم مولوي عبدالسلام حنفي په مشرۍ اداري کمیسیون ته وظیفه ورکړل شوه چې د اداري سیستمونو د اصلاح او په مالي او نورو برخو کې د کاغذ پرانۍ او ستونزو د لرې کولو په منظور لازم ګامونه واخلي او بیا یې د مشرتابه له محترم مقام سره شریک کړي.**

**افغانستان در سال ۱۴۰۰ هجری شمسی، بیش از یک میلیون متر مربع قالین صادر کرده است.**

## افغانستان به د نورو هېوادونو له مرستو سره پرمختګ ونه کړي

د بزګر د جشن او د کرنیزو محصولاتو شپږویشتم نندارتون چې د کابل ښار په بادام باغ کې پرانیستل شو، د رییس الوزرا اقتصادي مرستیال د دغه مراسم په پرانیست غونډه کې د وینا پر مهال وویل چې افغانستان به د نورو هېوادونو له مرستو سره پرمختګ ونه کړي او دا مرستې یوازې پاتې ۵

## از سرگیری برنامه‌های حمایوی سازمان جهانی بهداشت در افغانستان

سازمان جهانی بهداشت می‌گوید که پس از سقوط ادارهٔ پیشین، اولین برنامه آموزشی ارتقای ظرفیت را از بهر حمایت و بهبود عرضه خدمات بهداشتی و پشتیبانی از دو هزار مرکز صحی در افغانستان از سرگرفته است. بقیه ۵

**هدف ما در این اداره، خدمت برای مردم است و تعهد می کنیم که برای مردم از طریق این اداره خدمت کنیم.**

محترم ملا عبدالولی څارنوال حارث، سرپرست وزارت کار و امور اجتماعی



**د اسلامي امارت ټولې فیصلې او کړنې دسترو مصلحتونو او علیا منافعو پر بنسټ کیږي له ټولو لیکوالو او قلموا مو دا هیله ده چې په اړه یې د پردیو لیکوالو په اقتفا خپلو لیکنو ته منفي رنګ ورنکړي.**

محترم قاري محمد یوسف احمدي، د اطلاعاتو او رسنیو مرکز رئیس

## د ریاست الوزرا اقتصادي مرستیال د افغانستان لپاره د روسیې ځانګړي استازي سره وکتل

د ریاست الوزرا اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د افغانستان لپاره د روسیې ځانګړي استازي ضمیر کابلوف او مل پلاوي سره په ارګ کې وکتل.
په پیل کې د ریاست الوزرا اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند ضمیر کابلوف او ورسره پلاوي ته د ښه راغلاست تر څنګ وویل، افغانستان غواړي د روسیې په ګډون له ټولو هیوادونو سره اقتصادي او سیاسي اړیکې پیاوړې پاتې ۲

**که چېرې څوک له پوځي تجهیزاتو ناوړه ګټه پورته کړي، نو ورسره به قانوني چلند وشي.**

محترم مولوي محمد یعقوب مجاهد د ملي دفاع وزارت سرپرست

## د دې ګڼې انځور



### مولانا یعقوب چرخی

یعقوب بن عثمان بن محمود بن محمد غزنوی چرخی از مردم خراسان و از عارفان سده های ۸ و ۹ هجری است. مولانا یعقوب چرخی از اهالی ولسوالی چرخ ولایت لوگر بوده سال تولد وی معلوم نیست، اما بنابر بررسی ها، سال تولد موصوف بین سال های ۷۶۲-۵۷۵ قمری می باشد.
رساله ابدالیه، که از تصانیف او به شمار میرود در بیان صفات و مراتب اولیاءالله، که در آن به مقامات خواجه بهاءالدین نقشبند و خواجه علاءالدین محمد بخاری نیز اشاره شده است.
تفسیر قرآن معروف به تفسیر یعقوب چرخی، آخرین اثر چرخی (تألیف ۸۵۱)، که تفسیر بخشی از اجزای قرآن است شامل تعوذ (استعاذه)، بسمله، سوره فاتحه و جزءهای بیست و نهم و سی‌ام. مؤلف عمده مطالب را از تفسیرالکشاف زمخشری و تفسیر موفق‌الدین کواشی برگزیده و با اضافات، به روش علمی و عرفانی، به فارسی ساده و روان نگاشته است.
سید پادشاه حاجی سید عطایی، معروف به حاجی همدانی، تفسیر چرخی را در ۹۹۳ به ترکی جغتایی، غراب‌زاده احمدبن عبدالله (متوفی ۱۰۹۹) به ترکی عثمانی و محمد نذیر رانجها به اردو ترجمه کرده است. علاوه بر تفسیر چرخی، ترجمه‌ای از قرآن به زبان تاجیکی را نیز به یعقوب چرخی نسبت داده که، در اصل، همان تفسیر فارسی اوست.
نی‌نامه یا رساله نائیه، در شرح عرفانی دیباچه مثنوی معنوی (دفتر اول) و حکایت پادشاه و کنیزک (دفتر سوم) و داستان شیخ دقوقی شیخ محمد سررزی (دفتر پنجم)، این رساله، پس از جواهرالاسرار شیخ حسین خوارزمی، اولین اثری است که در شرح ابیات مثنوی معنوی نگاشته شده است. #